د دوې غیرت، د دوې هڅې اوکړ نامتو ځنې ځار

دوې ویاړمن تاریخ نه موږ ښکلی دفتر جوړوو

وطنه ستا پر د بنمنانو موږ محشر جوړوو

وطنه دیر راته په زړه ونوکسې الفت لري

ګرده نړۍ کې د غیرت شمله اوچت لري

خدای دی آزاد لره، چې موږ لره عزت لري

موږ ته به ستا د آزادۍ هیڅ اختر جوړوو

وطنه ستا پر د بنمنانو به محشر جوړوو

وطنه ستا مینه کې موږ سر ځار ول غواړو

څوچې ژوند یې یوه ربنتیا به ستا پالل غواړو

ستا دد بنمن مړی په بیخ کې پریکول غواړو

دغرونوسی کې به دی موږ هریو سنګر جوړوو

وطنه ستا پر د بنمنانو نه محشر جوړوو (۱)

---

(۱) د اترانه په یاد وزده کړې اوپه ګډه یې ووایئ .

غوره کول دعا

یوه شپه مې په یوه جومات کښې له یوه نا اشنا مسافر سره وه، چې شپه پخه شوه خپلو سوچونو راوښه کړه، غوږ مې ونیو، د جومات له کوټې نه مې د نا اشنا مسافر د خولې دا دعا ترغوږو شوه :

خدایه ! ماته قوّت راکړې، چې چیرته تیاره وي، هلته رڼا، چیرته ظلم اوزیاتي وي، هلته عدل اوانصاف، اوچې چیرته غم وي، هلته بنادي اوخوشحالي ورسوم .

خدایه ! ماته دومره قوت اوطاقت راکړې .

چې چیرته نا امید یې وي، هلته امید، چیرته نفاق وي هلته اتفاق او چیرته چې کرکه او کینه وي، هلته مینه او محبت پیدا کړم .

پروردګاره ! ماته د هغه چا سره د مرستې توان راکړې چې ملاتړ او مرستیال یې نه وي .

پوښتنې

۱ـ د نا اشنا مسافر د عاجزۍ کړۍ او تاسې یې هم وکړئ ؟

۲ ـ په دې دعا کې دیوه څیز پرځای دبل غوښتنه شوې ده ، ټول هغه څیزونه چې یو د بل عکس وي، ترې رابیل کړئ ؟

متلونه

خپله لاسه، کله لاسه .

خپل وطنه ، کل وطنه .

پښه خپله پښه پيژني .

خپل خپل، پر دي دلاري مل .

چې د بدو مل شي، د تولو غل شي .

پور چې ځنډ ني شي، خوږ دني شي .

په اسمان توکلی، پر خپل مخ راځي .

پور دي پور، منت دي نور .

اوږه په اوږه، منت دي په څه .

څه چې کړې ، هغه به ړېږي .

حرام په حرامه لاړئ .

حق خپل ځای نیسي .

خپل په خوله خوړې ، د بل په ستړکو .

خپل کور هرچاته ننګ ښکاري .

خپلوشو ملوته څوک تړې نه وایي .

پرده پې متلونو سربیره موږ هرځومره یادوي ولیکئ .

د درواغو دعوه

له یوه سړي نه د څلورو سوو روپیو یوه همیانی[1] ورک شوه ، دیره یې ولټوله خو پیدا نه شوه ، اعلان یې وکړ ، چې کنړ ما همیانی چا پیدا کړه او را یې وړه ، دوه سوه روپۍ به تر یې انعام ورکړم .

همیانی یوه غریب بزګر وموند ، او ورته رایې وړه او چې انعام یې تر یې وغوښت ، سړي خوله را بنکله او تیر یې دعوه یې پر یې وکړه ، چې زما په دی همیانی کښې دوه مرغلرې هم وې ، هغه څه شوې ؟

بزګر وویل : ما خو مرغلرې نه دي لیدلي ، دغه

[1] دپیسو کڅوړه .

همیانی مې چې څنګه موندلې. هغسې مې راوړې ده

د همیانی خاوند ورته وویل: ځه ته انعام نه شې

اخیستلای، ځکه تا مرغلرې پټې کړې دي اوغل ته انعام

نشي ورکول کیدای.

بزګر پوه شو چې سړي دوه سوو روپیو ته خبره

جوړه کړې ده، اوپه څه چل رانه پیسې خوړل غواړي

نو ښیغ قاضي ته لاړ.

قاضي د همیانی څښتن وغوښت او ورته يې وویل:

ته څه وایې چې زما په همیانی کښې دوه مرغلرې

هم وې؟

سړي وويل : هو قاضي صاحب دوه سوچه مرغلري هم پکې وي، هغه دې راکړي، چې انعام ورکړم .

قاضي بزګرته مخ راواړوه، او ويې ويل : هلکه په دې هميانې کښې دوه مرغلري پرتې وي ؟

هغه وويل : قاضي صاحب زه قسم خورم، چې په دې کښې له څلورو سوو روپيو پرته نور هيڅ هم نه وو

قاضي د هميانې څښتن ته وويل : ته وايې چې په هميانې کښې دوه مرغلري هم وي او دې قسم خوري چې .....

نو معلومه دا شوه چې ستا هميانې دا نه ده، دا لکوم

بل چانه لویدلې ده ، دا دبزګر شوه ، اوچې ستاهیانې
څه وخت پیدا شوه ، نو دې وبه یې سپارم .

پوښتنې

۱ـ له دې کیسې نه لنډ مطلب جوړ کړئ ؟

۲ـ که دهیانې خاوند بزګر ته انعام ورکړې وای
څه به شوې وای ؟

۳ ـ د قاضي په فیصله کې انصاف وو، که نه ؟

بسم الله الرحمن الرحيم

حمد

کوره هسې کړدکاردی رب زما

چې صاحب دکل اختیار دی رب زما

همکې بزرګوارانو چې څوک یې وایې

د همه وبزګوار دی رب زما

هر تعمیر چې د دنیا او د عقبیٰ دی

د همه وار ومعمار دی رب زما

شریک نه لري پخپله پادشاهي کې

بې شریکه شهریار دی رب زما

د جهاد سندره

موږ په خپل هیواد کې اسلامي حکومت غواړو

ژوند د شرافت غواړو ژوند د شرافت

الله اکبر ـ الله اکبر * * الله اکبر ـ الله اکبر

دلته ورور ولي به وي

یوتربل دوستي به وي

شرعه د نبي ﷺ به وي ـ شرعه د نبي ﷺ به وي

د پښتنې فضا کې اسلامي بیرغ اوچت غواړو

ژوند د شرافت غواړو ژوند د شرافت

الله اکبر ـ الله اکبر * * الله اکبر ـ الله اکبر

ورك به دا ظلمونه كړو

مړه به دا اورونه كړو

ورك به كړاوونه كړو - ورك به كړاوونه كړو

ځوپر مخ روان يو د اسلام شان اوشوكت غواړو

ژوند د شرافت غواړو - ژوند د شرافت -

الله اكبر - الله اكبر * * الله اكبر - الله اكبر

توره شپه رڼا به كړو

ځلنده فضا به كړو

د لخاوره ماوئ به كړو - د لخاوره ماوئ به كړو

ورکې د ښمنۍ د لخپل وطن، د لخپل ملت غواړو

ژوند د شرافت غواړو ـ ژوند د شرافت

الله اکبر ـ الله اکبر * * الله اکبر ـ الله اکبر

سر و مال قربان ترډین

نه سپمو ځان ترډین

هر یو مسلمان ترډین ـ هر یو مسلمان ترډین

مونږ د اسلام لاره کې ښه ښتي شهادت غواړو ـ

ژوند د شرافت غواړو ـ ژوند د شرافت غواړو

الله اکبر ـ الله اکبر * * الله اکبر ـ الله اکبر

مونږ ه د الله په نوم

د خپل ستر پیشوا په نوم

مور د مصطفیٰ په نوم — مور د مصطفیٰ په نوم

کړے دي تکل چې ستر قانون د شریعت غواړو

ژوند د شرافت غواړو — ژوند د شرافت

الله اکبر — الله اکبر * * الله اکبر — الله اکبر

ګران ورځه کوونکو د اتر انه په یاد ورځه کړئ او غږ کړئ سره وولي

یو والی

په مینه د ناموس کې سر بایللو مزه کوي

افغان سره له سره تیریدل مزه کوي

په مینه د حُریّت کې د قربان شي زما سر

په دې لار کې که مړه شم، نویم به بخته ور

آزاد په خپل وطن کې اوسیدل مزه کوي

افغان سره له سره تیریدل مزه کوي

یو تن یو، یو وجود یو، یو مودین یو موایمان دے

یوه هدف له پاره موکاروان پر مخ روان دے

یوه بیرغ نه لاندې تولیدل مزه کوي

افغان سره له سره تیریدل مزه کوي

د خدای په مینه مست دي، که زاړه دي که ځوانان

جنګیږي په میدان نه، له مړو ویرږي ځمکه آسمان

په لاره د اسلام کې کریدل مزه کوي

افغان سره له سره تیریدل مزه کوي

ناري دي تکبیر وینه دي، غوږې دي لړوبر

وتلي دي میدان ته، که کمکي دي اوکه ستر

همدغه وخت غږ والله، ستا غزل مزه کوي

افغان سره له سره تیریدل مزه کوي

درواغجن آخرشر میږي

دیوه سړي آس ورک شو، پیرو ویښې وکړئید خو پیدا یې نه کړ، آخر دځار ویو پر بازار ورښار برابر شو، - کوري چې یو سړي څلور آسونه خرڅ ته درولي دي چې د ده آس هم پکې دي، ورغې او خرڅونکي ته یې وویل: دا زما آس راوسپاره، دا زما دي، له پرونه راهسې رانه ورک دي .

پلورونکي وویل: ته تیروتی یې، دا زما پرخپل اخور لوبي شوې آس دي .

د آس خاوند وپرواند ې شو د آس پرد واړو

ستړکو یې څادر کې ښود او پلورونکي ته یې وویل:
ښه، داسې ستا آس وي، ته وایه چې کومه ستړکه
یې ړنده ده.

پلورونکی: کینه ستړکه.

د آس خاوند: دروغ وایې، کینه ستړکه یې روغه-
رمټه ده.

پلورونکی: نه ړنبتیا پام می نه ؤ، ښې ستړکه یې
ړنده ده.

د آس خاوند: دروغ دی وویل، دواړه ستړکې یې
جګې جوړې دي. که آس ستا پر اخور لوی شوی وای

نو تابه يې ښې او کينه سترګه نه ړندوله .

پلورونکي سترګې ښکته واچولې او سړی تر يې آس

روان کړ .

پوښتنې

۱ـ له دې کيسې نه موخه نتيجه واخيسته ؟

۲ـ په سوال ، ځواب کې د چا دليلونه ذکر کړه ؟

دُعاء

خدایه داتوري تیاري پرمو ښه زړه کړه

دغه توره شپه یوځل پرمو ښه سبا کړه

په اسمان موتوري لړي چې خوري دي

خدایه ته له دغو وریځو امان راکړه

داخواره واړه چې بیاسره یو لاس شي

په هیواد کې موپیدا هسې فضا کړه

مړک اوشړوبلې موموطن په سر اخیستې

سوله یې ژر وند موموطن کې راپیدا کړه

هسې نه چې واحدیې دې له عجزه

په واحد وجود بسیار دې رب زما

حاجت نلري دهیڅا ویارې ته

له هغوسره چې یار دی رب زما

څه حاجت دی چې یې بله خواته غواړم

په خپل کور کې همکار دې رب زما

هیڅ تغیر او تبدیل نلري رحمانه

تل ترتله برقرار دی رب زما

حمد : د خدای ﷻ ستاینه او صفت
اختیار : واک
تعمیر : ودانی، عمارت

شهریار : پاډشاه
واحدی : یو والی، یواحیتوب
همکار : ملګری، ترڅنګ

چې کورونه ورانوي انسانان وشړني

دا د بنمن د بشريت ته پوښتنه کړه

چې د نور وينه نيستي کښې هستي غواړي

دا پرځان باندې مين خدايه رسوا کړه

د خپل پاک حبيب ﷺ سپيځلي مخ ته کوره

له مړاړ شروبلې ځنې خلاصه مودنيا کړه

د غروال پر وطن سرې سکروټې اوريې

له دې اوره په امان د بنټې بيديا کړه

سیّد جمال الدّین افغان رح

سیّد جمال الدّین افغان یو لوی عالم، مفکّر او سیاستپوه
و، چې په ۱۲۵۴ ق هـ کال د کونړ ولایت په اسعد آباد کې
د سیّدانو په یوه درنه کورنۍ کې وزیږید، لومړنۍ زده-
کړې یې له خپلې کورنۍ مدرسې نه وکړې. په لږه موده
کې د علم د ډکریو وتلې اتل شو، د وخت د دیني مروج
علوم لکه: صرف، نحوه، منطق، فقه، تفسیر، حدیث
فلسفه او ریاضي یې زده کړل، ورسره یې پوهې زده کړه
هم وکړه، څه موده وروسته کابل ته راغله، هلته یې
هم د ځینو علومو لوست او مطالعه وکړه. د ختیزو-

علومو له ژوړې مطالعې سره سره يې انګليسي ژبه هم زده کړه
او د اروپا لسفلسفې نه يې هم ځان خبر کړ .

سيّد جمال الدّين افغان پر دې پوه شوچې د اسلام
د بښمنان د مسلمانانو تهذيب ، تمدن او اسلامي عقيده له منځه
وړل غواړي ، نو مسلمانان يې عمل اويوالي ته پاڅول ،
ويې هڅول چې ټول سره يو موټي اويولاس شي اوپه پوځي نظامي
اوعملي ډګرونو کې خپله مړانه وښيي .

د سيّد دا هڅه وه چې د نړۍ مسلمانان يو مرکز ته
راغونډ کړي ، د دې ارمان په ترسره کولو يې د پيرواسلام
هيواد وته سفرونه وکړل ، اوهلته يې د علم رڼا خوره کړه ، ـ

په ژبه او قلم يې په اسلامي هيواد وکسې نوي غورځنګونه او
ولولې راوپارولې ، د اسلامي يووالي او ورورولی له پاره يې
شپه او ورځ پرځان يوکړل، او آخر د ده خوارلسو اوکړاوونو
رنګ راوړ، نتيجه اوشوه يې ورکړه، ديرد اسې انقلابي او آزادي
خوښوونکي کسان راپيدا شول ، چې د دښمن مقابلې ته يې
په نړه راوداګل اوخپل اولسونه يې د غفلت له درانه خوبه
راويښ کړل .

سيد رح د خپل ستر تې ستومانه ژوند ورو ورو ستی شپې
ورځې په تُرکيه کې تيرې کړې ، چې ناڅاپه ورته يو ناعلاجه
ناروغي ورپيښه شوه او ۱۳۱۴ ق هـ ، د ۵۸ کلو په عمر وفات

شو، په استانبول د شیخانو په هدیره کې خاورو ته
وسپارل شو چې بیا ورو سته یې جنازه د افغانستان
دوخت د حکومت په غوښتنه کابل ته په ډیر درنا وي
راوړل شوه او د کابل پوهنتون په ورشو کې دوهم
ځل خاورو ته وسپارل شو .

پوښتنې :

۱ـ د سید جمال الدین افغان د اسلامي خدمتونو په باب مو
چې څه له دې درس نه زده کړې وي، هغه له ځان سره ټولګیانو ته بیان
ولیکئ .

۲ـ د دې درس کرکټر تکې راوباسئ له استاذ نه یې تر پوهیدو
ورو سته تر یې جملې جوړې کړئ .

څرنګوالی

"صرف او نحو"

د صرف علم :

صرف هغه دی چې د کلمو او لفظونو داد لون بدلون پوهیدنه ترې زده کیږي، او دیوې کلمې د اوښتلو راوښتلو لارې چارې ښیي .

د نحو علم :

نحو هغه علم دی چې له کلمو یا لفظونو نه د جملې یا کلام جوړولو د اولار ښیي .

کلمه یا لفظ :

هر معنیٰ لرونکی لفظ چې د انسان له خولې راووځي کلمه بلل کیږي . لکه : زه ، ته ، کتاب ، ونه ، لرګی ، سړک ، اوبه خاوره ، تیږه ، بوټ او .....

د کلمې ډولونه :

کلمه پر درې ډولو ویشل شوی ده :

اسم ، فعل او حرف .

الف : اسم (نوم) :

هغه کلمه یا لفظ دی ، چې دیوه څیز د نني او بهرني څرنګوالي وښیي ، او په هیڅ یوه مهال او زمان پورې اړه

ونه لري. لکه:

هلك، نجلی، سړی، لرګی، توره، غشی، لیندۀ، کتاب

ځمکه، قلم، غنم او.....

ب: فعل (کار یا کړه):

هغه کلمه یا لفظ چې له درېو زمانو (ماضي، حال او استقبال)

څخه په یوې پورې اړه ولري. لکه، لاړ، ځي، اوکاږئ

یا لکه: وخوړه، خوري او وبه خوري.

ج: حرف:

هغه کلمه ده چې نه د څه څیز نوم وي او نه په یو اړي ځان

څه معنی لري، اود نورو کلمو په یوځای کولو کې کار

کوي . لکه :

له ، سره ، تر ، پورې ، څخه ، څنې ، په ، پرلپسې ،

او ، د ، به او .....

د اسم ډولونه

اسم پر دغو لاندې برخو ویشل شوی دی :

۱ـ جامد : هغه اسم دی چې نه په خپله له کومې کلمې

نه وتې وي ، او نه له هغې نه کومه کلمه وتې وي .

لکه : لرګي ، تیږه ، اوبه ، اور او .....

۲ـ مصدر : هغه اسم دی چې په خپله له کومې

کلمې نه نه وي جوړ ، خو نورې کلمې ترې جوړیږي .

لکه : خوړل ، څښل ، لیکل چې خوراک ، خوراکي ،
خوړونکي ، خوړنده او .... ، څښاک ، څښونکي .....
اولیکونکي ، لیکوال ، اولیکاني ترې جوړیږي .

۳ ـ معرفه :

معرفه هغه اسم ته وایي چې دیوه ځانګړي اوخاص
څیز ، ځای یا کس نوم وي ، لکه قرآن کریم ، پکتیا ـ
سیّد جمال الدّین افغان او .....

۴ ـ نکره

هغه اسم دی چې ترڅو وړسره نور صفتونه او ـ
خصوصیتونه یوځای نه شي ، اوږیدونکي یالوستونکي پرې

نعت

که صورت د محمدﷺ نه وای پیدا

پیدا کړي به خدایﷻ نه وه دا دنیا

کل جهان د محمدﷺ په مخ پیدا شو

محمدﷺ دی د تمام جهان ابا

نبوّت په محمدﷺ باندی تمام شو

نشته پس له محمدﷺ انبیاء

نور هاله د محمدﷺ و پیدا شوی

چې نه عرش و، نه کرسي وه نه سما

بوی هاله د محمدﷺ و په جهان کې

چې بوی نه و د آدم او د حوا

پوه نه شي، چې مطلب تری څه دې؟ یعنی له پیژندګلوې انکار وشي او عام نوم وي .

لکه : ښار ، مورچل ، توره .

۵ ـ ضمیر :

هغه اسم دی چې د بل نوم د بیا تکرار پرځای وکارول کیږي .

لکه په لاندی مثال کې :

زلمي راغی ، زلمي خپل پلار ته وویل : چې د زلمي کتاب دی راوړه؟

د زلمي د بیا تکرار ولو پرځای وایي چې :

زلمي راغی هغه خپل پلار ته وویل: چې زما کتاب
دې راوړې؟

په پورتنۍ مثال کې هغه او زما ضمیرونه دي

۶ـ اشاره:

هغه اسم دې چې بل اسم ته پرې اشاره شوې وي.

لکه: دا کور، هغه جومات، دغه سړی، دې ښځې

په دې مثالونو کې دا، هغه، دغه او دې اشاري
اسمونه دي.

۷ـ موصول:

موصول هغه اسم دی چې تر څو وړسره بلد څرګند

خبره نه وي يوځای شوي، ترهغې تر يې مطلب نه راولاړيږي

لکه : څوک چې خواري نه کوي، خوارين ي .

په دی جمله کې (څوک چې) موصول (پيوست شوی).

اسم دی .

۸ ـ لقب :

هغه نوم دی چې يوچاته پر خپل اصلي نامه سربيره دځه

صفت (ستاينې) يا درناوی له پاره ورکړشي .

لکه : کليم الله، د موسیٰ عليه السلام لقب، يا رحمان بابا

ته د «بابا» لقب ورکړشوی دی .

۹ ـ خطاب :

خطاب هغه نوم دی چې د حکومت یا یو قوم له خوا -
چاته د د ر ناوی له پاره ورکول کیږي .

لکه : ملك الشعراء (د شاعرانو پاچا) ، بلبل افغان
یا سیّد الشهداء (د امام حسین) خطاب دی .

۱۰- کُنیَت :

هغه نوم دی چې د مور یا پلار نوم په زوی پورې -
ونښلول شي ، یا زوی د پلار یا مور په نامه یاد شي .

لکه : ابوالمراد (د مراد پلار) ، امیر حمزه شینواری یا
لکه ابن مریم (د مریم زوی) ، أبوطالب (د طالب پلار) ، یا
ابن عباسؓ (د عباس زوی) یا داسې نور .

۱۱- عُرف :

هغه اسم دی چې یوځوک هسې د سپکاوي خاصت یا ورکتوب له امله پرخپل اصلي نامه سربیره په یوه بل نامه یاد شي لکه :

توره، لنډی، شینو، لویشتک او...

۱۲- تخلّص :

هغه نوم دی چې یوځوک یې د خپل نامه د لنډون له پاره ځانته خوښوي. لکه : عبدالحمید «مومند».

اروا ښاد کل پاچا «الفت»، مرحوم عبدالحی «حبیبي».

قیام الدّین «خادم» مرحوم.

تخلص زیاتره هغه کسان ځانته خوښوي، چې په شعر
ادب، علم اوفن کښې لاس ولري .

۱۳ـ ذات :

هغه نومدی چې یوځین پرځای نورونه رابیل شي
لکه: غوا، کتاب او ونه، چې په دی نومونوسره دا -
ځینونه له نورو نومونونه را بیلیږي .

۱۴ـ صفت :

هرځینز د سبه والي، بدوالي، ډیروالي، لږوالي
لویوالي، کوچنیوالي، کلکوالي، پوستوالي، زړبن والي، سبویه والي
اړتوالي، تنکوالي، تورو والي، سپینوالي او... خاصیت ـ

لري ، د غه خاصيت ته صفت ويل کيږي .

۱۵ ـ فاعل اسم :

هغه اسم ته وايي چې له کومې بلې کلمې نه وتې کلمه وي او دې وه کار کول ترې کيږي .

لکه : ليکونکی ، خورونکی ، تلونکی او .....

۱۶ ـ مفعول اسم :

هغه اسم دی چې له بلې کلمې نه جوړشوې وي او يو کار پرې ترسره شوی وي .

لکه : وژلې ، خورلې ، ليدلی او ....

۱۷ـ مُصَغَّر « کوچنۍ شوې » :

هغه اسم دی چې دیوه څیز د اصلي بڼې پرخلاف ، تری کوچنیوالې ښکاري . لکه : له کټ نه کټکی ، منکۍ نه منکوټی له دیګ نه دیګچې او .....

۱۸ـ مُکَبَّر « لوی شوې » :

هغه اسم دی چې دیوه څیز له اصلي بڼې نه پکې لویوالې مرادوي . لکه : کیدی ، کیدی ....

۱۹ـ آلې اسم :

د هغه لوبنې نوم دی چې دیوه کار په کولو کې پکار یږي لکه : یوم ، ییوه ، قلم ، تباشیر ، توره ، توپک او ...

۲۰ ـ مکان اسم، «ظرف» :

هغه اسم ته وایي چې مکان یا ځای تري مراد وي

لکه : بنار، بنوونځي، کارخانه، جومات، دوکان او...

۲۱ ـ زمان اسم، «ظرف زمان» :

هغه اسم دي چې وخت او مهال وښيي .

لکه : ورځ، شپه، ساعت، ننه، پرون، سبا، غرمه

مابنام او .....

پوښتنې

۱ ـ دهر تعریف له پاره یو یو مثال له ځانه ولیکئ ؟

۲ ـ تعریفونه په خپل چاپیریال کښې عملي کړئ ؟

دوني شاهدي

يوسړي له چا سره نږدې افغاني امانتي کينبودې څه موده وروسته چې سړي په خپلو پيسو پسې ورغې هغه امانتګر ې خوله را ښکله اوپرې منکر شو .

د دواړه خبره په خبرو، خبروکې قاضي ته ورسيده قاضي له دواړو نه دليل اوشاهد وغوښت، امانتګرې سوګند ونه کول چې ماته يې نه دي راکړي .

دپيسو خاوند ته يې وويل : ته څوک شاهد لرې چې پيسې دي دهغه په مخکې ورکړې وې ؟

هغه وويل : ماچې پيسې ورکړې هلته بس بې له خدای (ج)

په صورت که آخرین دی پیدا شوی

په معنیٰ کښې اولین دی ترهرچا

چې یې دین محمدؐ دی قبول کړې

جنتي دی، که فاسق دی که پارسا

محمدؐ دکمراهانو رهنما دی

محمدؐ دی درمندو دلاس عصا

کړنا ده پیروي د محمدؐ ده

کښه نشته په جهان بله سرنا

محمدؐ دبیچاره ووچاره کړدی

محمدؐ دی هردردمند لره دوا

اويوړ وړې نه بل هيڅوک نه وو ،

قاضي ورته وويل : ورېشه هغه ونه راوړه .

سړي وويل : ونه به څنګه راسره راشي .

قاضي وويل : ورېشه ورته وايه چې محکمې ته دې

بيايي ، قاضي غوښتې يې .

سړي لاړ چې ونه راوړي ، قاضي له امانتګرۍ نه

پوښتنه وکړه :

هغه سړي به اوس رسيدلې وي ؟

هغه وويل : نه تر اوسه به لاڼوي رسيدلې . ځکه

ونه خو ډيره لرې ده .

قاضي چپ شو، اوخه شيبه ورسته دپيسو خاوند رانغوت، سلام يې واچاوه، قاضي ورته وويل رادې نه وسته ؟

سړي وويل : ماهر څومره ورته وويل چې.....

قاضي وويل : راځه وني شا هدي وويله .

هغه سړي قاضي ته په حيرانتيا وويل : زه خو دلته له تاسره ناست وم ، وني کله شاهدي وويله ؟

قاضي ورته وويل : ماچې له تانه پوښتنه وکړه ، چې هغه سړي به اوس وني ته رسيدلی وي ؟ نوکه تاته پرښتيا ترهغې وني لاندې امانت نه واى درکړى

تاولې نه ويل چې ماته ونه نه ده معلومه چې چيرته ده ؟

هغه سړي خُوښ سر وښيو، بې خُوابه شو.

قاضي تري د پيسو د خاوند زر افغانۍ واخيستې

او ورې کړې.

پوښتنې :

۱ـ امانت کوم مال ته ويل کيږي ؟

۲ـ که د امانت خوړونکي امانت نه وای خوړلې

او دروغ يې نه وای ويلې ! نو ايا د خجالت او سرکوزۍ

شوې به وو ؟

مرغلري

زيار اوخواري نه کول تنکسه راولي اوتنکسه دين تنکوي عقل کموي، اومينه له منځه وړي .

"لقمان حکيم"

دا رواوبيوزلو غوښتنه سباته مه پريږده، معلومه نه ده چې سباځه کيږي ؟

"سقراط"

که غمونه ويشل کيدای شوای، هرچا به خپله برخه غم غنيمت کانه ترهغه بودی ډيره خوږه وي خوچې سړی پکې روغ وي اوړينبتوني ملګري ورسره وي".

"سقراط"

چیرته چې عقل پوره وي، هلته به شر او طمعه نیمګړي
وي، ډیره بده اړتیا او احتیاج هغه دی چې یو د روند-
سړي سپک اونه سړي ته و د سړي او پوره یې نه کړي .

" اپلاتون "

مړک په غار کښې ناست زمری دی، چې له منګولونه
یې ځان ساتل ګران دي .

" ارسطو "

چپتیا او خاموشي تر ټولو اسانه اکتور عادت دی .

" ارسطو "

رهبتیا د ټولو رنځونو علاج او د روغ د ټولو ګناهونو
مور ده .

" سقراط "

خواري

د مکي خلکو چې په مسلمانانو پسې يې راواخيسته ، او په آرام يې نه پريښودل ، ديارلس کالو يې وځورول ، اخر- رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او ملګرو يې د خداى جَلَّ جَلَالُهُ په حکم له مکې نه هجرت وکړ ، کور ، اور او هرڅه يې پريښوول ، او مدينې ته لاړل .

په مدينه منوره کښې رسول الله صلى الله عليه وسلم له ابو- ايوب انصاري رضي الله عنه سره په يوه ډاګه ميدانى کښې ديره شو او ويې فرمايل : کدا ډاګه څوک په بيه واخلي ، نو يو جوړ ک په کې جوړ کړو ، ذ ډاګې څښتنان يو دوه يتيمان وو .

هلکانو او مشرانو یې غوښتل چې حکمه ورسره او بې
پیسو ورکړي، خو رسول الله ﷺ یې بې پیسو اخیستل ښه
ونه ګڼل، د حکمې بیه یې ورکړه، تر دې مسلمانانو په
شریکتیا یې راوچلوله، او جومات یې په خپلو لاسو ودان
کړ.

د جومات په ودانولو کې به چې رسول الله ﷺ تیږه
راوړې، نو ملګرو به یې ورمنډه کړه او تري وبه یې نیوې
او ځای ته به یې ورسولې، بیا رسول اکرم ﷺ بله تیږه راخیستې
وه، بیا به یو څوک ورغې او په مینه به یې تري واخیسته
د رسول الله ﷺ او د ملګرو په پاکو لاسو مدینې منوّره

جومات بشپړشو، د ی جومات ته «مسجد نبوي» وايي.
چې بياور وسته حضرت عثمان (رض) اونور و دا جومات
ډير سنبکلی کړ.

يوځل له مکې نه د کفارو يولوی لښکر روان شو
چې پر مدينه يرغل وکړي، رسول الله (ص) چې خبر شو نو
وې پټيله چې له مدينې نه چاپيره خندق وکنئ چې کفار
د مدينې سنا رته رانه نه وځي، دا خندق پنځه نيم زره
مترهٔ اوږد اوشله پاسه دوه مترهٔ ژور وو، دري زره
مسلمانانو په يو مخ پکې شل وړئ، شپه او ورځ پرځان
يو کړي وو، او کار يې پکې کاوه، مسلمانانو ته به تر

دریو دریو ورځو وډی نه ورسیده ، په کیده
پورې به یې تیږې ترڅې چې دلوبزې مخنیوی وکړي .
رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په خپله هم د خندق
په کیندلو کښې پوره مشغول ؤ ، هغوی هم په کیده
پورې تیږې ترڅې وی ، یوځل په خندق کښې یو لوی
کټ راووت . تکړه تکړه اصحابو کوښښ وکړ
چې کټ مات کړي ، خو چا مات نه کړای شو . اخر -
رسول اکرم پخپله پرې پلک کوزار ونه وکړل .
یو کوزار یې وکړ ، ورپسې یې بل وکړ ، چې درېیم کوزار
یې کاوه ، نو کټ ذرکړې ذرکړې شو .

خواري، کوښښ اوپه خپلو لاسو کار کول د
رسول اکرم ﷺ ډير خوښ وو او کاوه ښه يې، کوم کارونه
چې د رسول اکرم ﷺ خوښ وو او کول يې، هغوته
سنّت وايي . خواري مزدوري سنّت ده .

خدائ يې مه کښه بيشکه چې بنده دی

نور يې کل وارې صفات دي په ربنتا

زه رحمان د محمدﷺ د درخاکروب يم

که مې خدای نه کړله دې دره جدا

"رحمان بابا"

نعت : د رسول الله صلی الله علیه وسلم ستاینه اوصفت .

کُل : ټول

نبوّت : پیغمبري

انبیاء : نبیان، پیغمبران

نور : رڼا، وړانګه

هاله : هغه وخت

فاسق : بدچاري

پارسا : نیك، پرهیزګار .

عصا : اسا، دلاس لرګی

صفات : صفتونه

خاکروب : جارو کښ

پوښتنې :

۱ ـ رسول اکرم صلی اللہ علیہ وسلم له مکې نه مدینې ته ولې لاړ ؟

۲ ـ د مدینې د مسجد په جوړولو کې چا چا کار کړې وو ؟

۳ ـ د مدینې د مسجد نوم څه دی ؟

۴ ـ د خندق په کنلو کښې رسول اکرم صلی اللہ علیہ وسلم څرنګ برخه اخیستې وه ؟

۵ ـ خواړې مزدورې ولې سنت دی ؟

۶ ـ لاندې کلمې په ښو، ښو جملو کې وکاروئ :

اصحاب، هجرت، مسجد، خندق، سنت .

ربنتیا

څل ربنتیا وایه، ربنتیا وایه ربنتیا

ربنتیا وایې هر یتمن اوهر دانا

وي ربنتونی سړی هر چاته عزیز

دروغجن وي مشهور په بد تمیز

چې ربنتیا وایې نو ټل به وي آباد

له غمونو له فکرونو به وي آزاد

چې ربنتیا وایې نو وي به زړه ور

په ربنتونی د الله هم وي نظر

په ربنتیا وو باندې هر مشکل اسان شي

په ربنتیا وو باندې سنګلی هر انسان شي

ربنتیا وایه که کړاو، که اسانی وي

په ربنتیا وو به دی څه پښیماني وي

ربنتیا مونډ[1] شي په دنیا کښې دنیکیو

په ربنتیا وو کور و رانیږي د بدیو

په ربنتیا ویناچې کوم سړی عادت شي

د هغه سړي پر خونه برکت شي

هو ښیار هغه دی چې تل وایي ربنتیا

که وړوکی وي، که ځوان وي، که بوډا

(۱) ښکته، ښځ.

دروغجن سری په هرځای مختورن وي ـ

داربنتیادی ، دروغجن دخدائ دښمن وي

له دروغو ځان ساتی ، دروغ فساددی

داجهان بس په ربنتیاسره آبادد ی

حضرت خدیجه رضي الله عنها

حضرت خدیجه رضي الله عنها د رسول اکرم صلی الله علیه وآله وسلم

مشره بي بي وه ، اوپه بنځو کښې لومړنۍ بنځه وه . چې د رسول اکرم ﷺ پر پیغمبرۍ يې ایمان راوړ . له خدیجې رضي الله عنها سره د رسول الله ﷺ ډیره مینه وه ، او تر څوچې هغه ژوندۍ وه ، رسول الله ﷺ بله نکاح ونه کړه .

حضرت خدیجه رضي الله عنها له کوچنیوالي راهسې پاکلمنې او نیکه بنځه وه ، اوخلکو به ورته له ډیرې پاکۍ " طاهره " یعني " پاکه اوسپیڅلې " ویله . له خدیجې رضي الله عنها نه د رسول الله ﷺ څلور لونې ، اود وه زامن وو . حضرت زینب ،

حضرت رُقیه ، حضرت ام کلثوم او حضرت فاطمه رضي الله عنهن
يي لوڼه ، عبدالله او قاسم رضي الله عنهما يي زامن وو
چې کوچنيوالي کښې مړه شوي وو .

حضرت خديجه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ ترنکاح دمخه کونده
اوپيره شتمنه وه ، هغه وخت دمکې معظمې د خلکو کوزاره
سوداګري وه ، داوري به شام ته تلل اود هغه ځای څيزونه
به يي راوړل اوپه مکه کې به يي خرڅول ، دژمي به يمن
ته تلل ، که څوک به پخپله نه شوتللای ، خپل مال ، اسباب
اوپيسې به يي بل چاته ورکړي اوپه کټه کښې به يي له ځان
سره شريک کړل .

حضرت خدیجه رضی الله عنها هم شتمنه ښځه وه ، په خپله خوله
قافلې سره نه شوه تلای ، نو خپل مال او پانګه به یې
نورو ته د سوداګرۍ له پاره په برخه ورکړه ، رسول اکرم صلی الله علیه وسلم
هم د دوی له مخې ترنبوّت د مخه سوداګرۍ کوله ، زیاتره
به یې خپل مال وړه ، خو کله کله به یې دبل چا هم وړه .
رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د خپلې امانتګرۍ او هوښیارۍ
لامله په سوداګرۍ کې پیره ګټه کوله ، نو هرچا غوښتل
چې مال یې یوسي ، یوځل ورته خدیجې رضی الله عنها هم خپل مال ـ
اسباب ورو سپاره . قافله شام ته تله ، خدیجې رضی الله عنها خپل نوکر
میسره ، هم ورسره ولیږه . له سفر نه چې راستانه شول

نو رسول الله ډهو ښياری او امانتکری له املا يې پيره کته
وکړه ، د خديجې رضي الله عنها نوکر د زلمي محمد صلى الله عليه وسلم ، پيره
ستاينه ورته وکړه . د خديجې رضي الله عنها پر زړه د هغه زلمي
غوره اخلاق او امانتکري ور ننوته او ډير اثر يې پرې وکړ.

خديجې رضي الله عنها خوب ليدلی ؤ ، چې زهابه کاله کښې له اسمانه
لمر راکوز شوې وي او تول کور يې روښانه کړې وي.
خوب يې خپل د ترور زوی (ورقه بن نوفل) ته وويله .
هغه د تورات او انجيل پوهلوی عالم و ،
هغه ورته وويل : آخر الزمان ، رسول ، پيغمبر
راتلونکی دی . اوته به ورسره نکاح کوې .

له هغې ورځې راهسې خديجه رضي الله عنها سخته په انتظار کې
وه . د پيرو بستر وسردارانو او مخور وترې د نکاح غوښتنې
کړې وې ، خو هغې يوه هم ونه منله .

خديجې رضي الله عنها چې له ميسرې نه د دغه زلمي ستاينه
واوريده ، نو په زړه يې وخوړه چې هغه اخر الزمان
نبي به هم دغه سړی وي ، ځکه يې نو په خپله ورته د
نکاح غوښتنه وکړه ، محمد صلى الله عليه وسلم له تره ابوطالب
ځني په دې باب پوښتنه وکړه ، هغه سلاو رکړه او نکاح
يې ورسره وکړه ، د حضرت پيغمبر له لورې يې ترونه او ځيني
نور خپلوان د خديجې رضي الله عنها کاله ته لاړل ، ابوطالب او ورقه بن نوفل

د دوارم واړه خواد نکاح رسم اود دې پرځای کړم، دا وخت
د خدیجې ؓ عمر څلویښت کاله او د رسول الله ﷺ
پنځه ویشت کلن و .

حضرت خدیجه رضي الله عنها تر نکاح وروسته پنځه ویشت
کاله ژوندی وه، اود نبوت په لسم کال وفات
شوه .

پوښتنې :

۱ـ حضرت خدیجه ؓ څوک وه ؟

۲ ـ خدیجې ؓ څه خوب لیدلی وه، او ورقه بن نوفل ته څه معنی ورایستلی وه؟

۳ ـ بي بي خدیجه په څو کلنۍ کښې وفات شوه ؟

کډ خواږه

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم اوملګري يې له خپلو سورليونه کيوتل، وهري يې پرځمکه واړول، تولو ديوه پسه دحلالې سلا سره وکړه .

يوه وويل: حلاله به نړه وکړم .

بل وويل : څرمن به يې نړه وکاږم .

دريم وويل: پخلې پرما .

څلورم هم يوکار په غاړه واخيست .

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمايل:

له دراغه نه به خس نه راوړم .

وعدهٔ پرځای کول

داسلام دوهم خلیفه حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت په وخت دووکسو پریوه بل سړي دعوی وکړه، چې زموږ پلار یې وژلی دی، خبره عمر رضی الله عنه ته لاړه، خلیفه له قاتل نه پوښتنه وکړه:

دوی پرتا د قتل دعوی لري، ریښتیا وایې؟

قاتل وویل: هو! ریښتیا وایي، ما د قتل ګناه کړې ده رو غوګناه پرسر نشم اخیستلای، ناست خلك ټول حیران شول.

عمر رضی الله عنه وویل: د قتل بدل قتل دی، که دوی

دوارهٔ د قتل خون بهاوانه خلي، يعني پيسې وانخلي، نو
نه به وژل کيږي .

قاتل وويل : زهٔ خپل مرګ ته تياريم، ماووژنئ ،
خوبيوه خبره لرم، چې زما يوکوچني ورور دی، ماد هغه
امانت پيسې په داسې يوځای کسې بنخې کړې دي، چې بل چاته
نه دي معلومې، دومره مهلت راکړئ، چې هغه پيسې بل چاته
وسپارم .

عمرؓ وفرمايل : ضامن راکړه، چې راځې به .

هغه شاوخواوکتل، پرابوذرؓ يې سترګې ولګيدلې، ـ
ابوذرؓ ديرسترصحابي و ، ابوذرؓ ته يې کوته ونيوه، چې

دی مې ضامن دی .

خلیفه ابوذر رضی الله عنه ته وکتل او ویې ویل : ته دده ضامن کیږی؟

ابوذر رضی الله عنه وویل : هو .

عمر رضی الله عنه وویل : که رانه شي دده پرځای به ته وژل کیږی؟

ابوذر رضی الله عنه وویل : چې ضمانت می وکړهم څه چې پیښیږي

منم یې .

تاکلې وخت راورسید ، خلکو تولود قاتل پرلورستر کې

نیولې وی ، خوځه ننبه یې نه بنکاریده ، خلك دیرخواشینې

وو ، چې چیرته ابوذر په ضمانت کې سربابنلي ، خلکو ـ

مدعیانوته منت زاري وکړې ، چې خون بهاواخلئ ، څومره

چې اخلئ، مونږ يې درکوو، خوهغوئ نه منله .

عمرؓ وويل : دوعدې دپرځای کولو وخت په —

تيريدو دی، چې وخت پوره شي، ابوذرؓ دی ووژل شي.

وخت پوره شو، د ابوذرؓ لاس اوپښې وتړل شول،

اومړک ته تيار شو، چې ناڅاپه له لرې نه پوغږ راغې —

هئ ودريږئ، کوزار ونه کړئ، خلک حيران شول

چې سړی راغې اوله ابوذرؓ سره جوخت ودريد .

په خلکو کې ساه وغړيده، اوپير خوشحاله شول .

چې ابوذرؓ لږقتل نه بچ شو، اويو مسلمان خپله وعده —

اولوظ په داسې وخت کښې هم پوره کړ .

زلمی راغی اود جلاّد انو په مخکې ودریدل . جلاّد تورې -
پرې راخلاصوله ، چې مدعیانو چغه کړه . موږ بدل نه اخلو
دی موږ وبابنه .

خلك په دی لاخوشحاله شول .

عمرؓ له ابوذرؓ نه پوښتنه وکړه : تا داسې پیژاندې ؟

هغه وویل : مانه پیژاندې . خو چې زه یې ضامن کړم
نو داغیرت اومړانه نه وه چې مایې ضمانت ته غاړه نه وای
ایښې .

عمرؓ بیا قاتل ته مخ وړاوړاوه اوورته یې وویل : ته
څنګه ښه ته د مړک خولې ته راغلې ؟

زلمي قاتل وويل : وعده اولوظ نه پوره کول په
اسلام کښې روانه دي، مسلمان چې وعده وکړي
نوکه سر يې پکې هم ځي، خپله وعده به پوره کوي .

پوښتنې :

۱ـ قاتل ولې ښه راغې اومړک ته يې غاړه کيښوده؟

۲ـ ابوذر رضي الله عنه د قاتل ضمانت ولې کړې وو ؟

کوم کارچې درنه وران شي، د اسې وران يې مه پريږده

کوم کارچې درته ګران شي، داسې ګران يې مه پريږده

دنيا کې همت ښه دی، په هيڅ شان يې مه پريږده

ممکن دی هر يو کار، په جهان يې مه پريږده

همت کوه، همت کوه، همت

دالاره د شوندون ده پيره سخته، مخکې ځه

بد بخته په تکرو دی، خوشبخته - مخکې ځه

غوږ ځيږي د پيرشاهان لتاج وتخته - مخکې ځه

په وخت کار ته ورځه، نه بې وخته - مخکې ځه

همت کوه، همت ـــ همت کوه، همت

بیشکه چې ډیر کران دی هر قدم د دی دنیا۔
را در ومي په یو غم پسې، بل غم د دې دنیا
زهیر دی پټ په پټه هر بې غمد د دې دنیا
همت د زړه پر هر وته، مړ هم د دې دنیا

همت کوه، همت ـــ همت کوه، همت

کار ونه په دنیا کې اسانیږي فکر مه کړه
سختي د دی دنیا وار ه تیریږي فکر مه کړه
همت ته په دنیا کې څه ټینګیږي؟ فکر مه کړه
مردانو باندې فضل راوریږي، فکر مه کړه

همت کوه، همت ـــ همت کوه، همت

همت دغره په سرکې سرکـونه دي ایسـتلي

همت دغره په منځ کې سورنګونه دي ایسـتلي

همت له شارو کـنـدونه باغونه دي ایسـتلي

همت پورته فضا کې جهازونه دي ایسـتلي

همت کوه، همت ـــ همت کوه، همت

همت دمتو زور او دزړه توان دی که پوهیږې

دنیا کې ددی هر وخت امتحان دی که پوهیږې

انسان بس په همت باندې انسان دی که پوهیږې

همت کوه، همت ـــ همت کوه، همت

B
HEC

دوخت آواز

لکه بادهسې روان یم ـــــــ نړه له هیڅانه ویریږم

چاته کله ایسارېږم

* * * *

درنه ځمه نړه په وړاندې ـــــ که ته ژاړې، اوکه خاندې

* * * *

کار په وخت باندې پیکاردی ـــــ هر بې وخته کار بیکاردې

بیکاري همیشه خواردی۔

ملکرو یې وویل: یا رسول الله[۲] تاسې ځان مه
زهیروئ، آرام کښینئ، دا هرڅه موږ پخپله کوو.

پیغمبر اکرم[۲] وفرمایل: زه پوهیږم چې دا هرڅه
تاسې کوئ، خو د خدای جل جلاله، دا خوښه نه ده، چې
خپل بنده، د ملکرو ترمنځ داسې وویني، چې ځان ترنورو
اوچت کړي

بیا راغه ته لاړ، خس یې راټول کړل او رایې وړل.

پوښتنې

۱ ـ له دې کیسې نه اخیستې مطلب یوبل ته واوروئ.

۲ ـ که رسول اکرم[۲] ځان ترنورو اوچت کړلای، نو څه به یې کړې وای.

د مجاهد ترانه

موږ مسلمان مجاهدین د حق لښکر جوړوو

وطنه ستا پر د بښمنانو موږ محشر جوړوو

وطنه ستا غیرتي غیږ کې لوبیدلي یو موږ

ستا په ژانکو د آزادۍ کې ژنکیدلي یو موږ

تا د عزت په پاکه خاوره کې روزلي یو موږ

له موتي خاورې به د ی موږ لعل وګوهر جوړوو

وطنه ستا پر د بښمنانو موږ محشر جوړوو

وطنه ستا اصیل بچیو انګریزان شړلی

ستا د عزت او آزادۍ یې د بښمنان شړلی

ترننه ورك دي، له دنيايې په ارمان شې لي

انګرين، پرنګ نه در وسانو حال بترجوړوو

وطنه ستا پر دښمنانو به محشر جوړوو

وطنه تا ته بد نظر که نن روسان لري څه!!

د بخارا او سمرقند په تاکومان لري، څه!!

پر زړه به يې پاتې شي دا غونډه که ارمان لرې څه!!

هره ډزه دې دښمنانو ته سقر جوړوو

وطنه ستا پر دښمنانو به محشر جوړوو

وطنه ستا له هسکو غرونو سر دروځنې ځار

ستا ترسره تيرو، ننګيالیو، شا ځلمو ځنې ځار



AFGHANISTAN EDUCATION COMMITTEE

اِقرَاْ...

پښتو لوست

د څلورم ټولګي لپاره

کال: ۱۳۶۵ هـ.ش

پښتو قاموس

د خلورو برخو لپاره

مؤلف :

محمد آصف «صميم»

مشورتي غړي :

باطن شاه «صافی» او روژه‌کل «وحدتي»

فهرست

د درس عنوان :	مخ
حمد .	۱
نعت .	۳
گدخواره .	۶
د مجاهد ترانه .	۸
غوره دُعا .	۱۲
مثلونه .	۱۴
د درواغو دعوه .	۱۶
د جهاد سندره .	۲۰
يووالي .	۲۴
د رواغجن اخرشرمیږي .	۲۶
دُعا	۲۹
سید جمال الدین افغان .	۳۱
څرب ښوونه .	۳۵
د وني شاهدي	۴۹
مرغلري .	۵۳

درس عنوان :	مخ :
خواري .	۵۵
پوښتنې .	۶۰
ربښتيا .	۶۱
حضرت خديجه رضي الله عنها .	۶۴
وعده پرځای کول .	۷۰
همّت .	۷۶
دوخت آواز .	۷۹

ليکونکي : محمّد آصف صميم ، او ب ، صافی .

خطاط : عبيدالله حنبلي